مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۶ / ۰۱ / ۱۱

# شاه محمود میاخېل: جګړه ماري ډلې، ملي روایت او اجنډا نه لري
## مرکه: ولي الله ملکزی



ولي الله ملکزی شاه محمود میاخېل

موږ ولې هره ستونزه د ټوپک شپېلۍ ته په نښه کوو؟ د پرولتاري انقلاب او ستر اسلامي امت شعارونه څرنګه د قوم او ژبې په کوچني خُم کې رنګ شول؟ د افغان او افغانیت له کلمو سره دا حساسیت له کومه راغی؟ آیا د ګوندونو جوړول د ستونزې حل دی؟ آیا له مقاومت خپلو سره همغږي لرئ؟ آیا ولس به بیا د جمهوریت په فراریانو باور وکړي؟

دا هغه پوښتنې دي چې ما تېره ورځ د دفاع د پخواني سرپرست وزیر او نومیالي شنونکي، شاه محمود میاخېل سره د یوې ځانګړې مرکې په ترځ کې مطرح کړېدي.

ښاغلی میاخېل: د نړۍ په ګڼ شمېر هېوادونو کې کودتاګانې کېږي او حکومتونه رنګیږي. خو په افغانستان کې هره کودتا او بدلون له ټوپک سره تړل شوی او د حکومتونو ترڅنګ پوره نظام او سیستم ورسره له منځه ځي؛ ستا په فکر ولې داسې کېږي؟

تر کومه ځایه چې زه مطالعه لرم، د ظاهر شاه له دورې راپدېخوا ولیدل شول هرچا چې واک نیولی دوئ یوازې د قدرت د نیولو لپاره پلان درلود، هغه په سیاسي لحاظ باندې وو او که په نظامي؛ خو د حکومتولۍ لپاره نه وو. نو ځکه دا تسلسل په افغانستان کې د سیستم د ناکامۍ باعث شو، خلک په حکومتونو شکمن او په وړاندې یې پاڅونونه رامنځ ته شول. د حکومت تعریف همدا دی چې عام ولس باید په تصمیم نیولو او احتساب کې برخه وال وي. خو دلته د خلکو مشارکت ورک شو، یوې ډلې یا یو شخص واک ونیو او نور یې نفي کړل. د حذف او انحصاري سیاست له وجې، ولس ناراضه شو، بهرنیو مداخلو ته لاره هواره شوه، د سیمې او نړۍ استخباراتو لاسونه را اوږده کړل؛ یوه خبیثه کړۍ جوړه شوه او نظام بیا بیا سقوط شو.

پوښتنه: په افغانستان کې د خلق او پرچم ګوندونو، د هجرت او جهاد په مهال د غازیانو تنظیمونو او د ناسیونالزم لارویانو؛ چا د پرولتاري انقلاب او وطن شعار زمزمه کول او چا به د ستر امت او حتی خلافت د جوړېدو خوبونه لیدل. دا راته ووایه چې د دغو اړخونو دا فکري ساحه ولې دومره راتنګه شوه چې کین لاسي د قوم ګیرایۍ په دائرې کې راغونډ شول او د اسلامي امت خبره لومړی په ملت او اوس په ملیتونو باندې وویشل شوه، لامل به یې څه وي؟

کله چې جنګونه اوږدېږي نو دښمنۍ، سیالۍ او عُقدې رامنځ ته کېږي او څوک چې محروم پاتې کېږي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

هغوئ هڅه کوي واک ترګوتو کړي کنه نو د شکایت لمن رانیسي. موږ د جمهوریت په دورې کې ولیدل چې موږ غریب، دواک دننه او د باندې خلکو، حتی بهرنیانو ټولو ګیلې درلودلې. په پایله کې یوه ملي اندېښنه او د رواني نارغی یوه څپه رامنځ ته شوه. اوس څوک ملت نه مني، څوک افغانستان نه مني او څوک له افغانیت څخه منکریږي او داسې انګېري چې ښایي ستونزه به يې حل شي؛ حال دا چې مشکل نور هم اضافه کېږي. هغه څوک چې ملي ګټې په خپلو شخصي او سکتارستي محور کې ګوري، دوئ هم په یوې رواني ناروغی اخته شویدي. خو وخت او تاریخ ګواهي ورکوي چې د افغانانو ملي ګټې، یوازې په یو مشروع ملي نظام کې خوندي کيږي.

میاخېل صیب؛ د نیویارک ځوان مسلمان ښاروال، زَهْران مَمْداني تاریخ ولیکلو. نوموړي تېره اونی په جار سره وویل چې زه په یوګنډا کې زیږېدلی یم او په دغه هویت ویاړم. خو زموږ ځینې هېوادوال چې د افغانستان په جغرافیې کې له پېړیو پېړیو راهیسي کوڅه په کوڅه اوسیږي، عقیده، وینه، کلتور، دردونه او ویاړونه یې شریک دي؛ د افغان له کلمې سره حساسیت لري او ځانونه په جلا جلا نومونو یادوي. دا واټن ولی راپیدا او څنګه پراخه شو؟

دغه یوه لپه افراد چې ځانونونه په نورو نومونو یادوي، حتی په خپلو قومونو کې هم ځای نه لري؛ دوئ ډېر محدود کسان دي چې ښایی له څو سوو یا زرو تنو زیات نه وي. افغانستان خو پرېږده، د خپلو خلکو استازولي هم نه شي کولای. دغه ډول وګړي اصلا بله اجنډا نه لري؛ زما په آند دا هم د رواني ناروغی ادامه ده چې په منفي شیانو لنګر اچوي او د ځان او دغه رنګ داعیې لپاره مارکیټ لټوي. د افغان او افغانیت خبره ادبي بحث نه دی بلکې یوه سیاسي مسئله ده. کله چې د ملکونو د جوړښت بهیر پیل شو، نو دغه هویت افغانستان ته ورکړل شو او ومنل شو. هرڅوک چې د هرې ژبې او قوم وي دلته اوسیږي، هغه افغان دی. افغانستان نه تجزیه کېدونکی دی؛ په دې پنځو لسیزو کې هر ډول لاسوهنې، یرغلونه او هجرتونه وشول خو افغانستان ثابت پاتې شو. که افغانستان ویشل کېږي نو د دې سیمې ټوله جغرافیه به بدلیږي او د سیمې هیوادونه هېڅکله دېته تیار نه دي.

د جمهوریت په وروستیو کې د عدلیې د وزارت د چوکاټ دننه، ۱۰۷سیاسي ګوندونو خپل نومونه ثبت کړل. مګر دغه احزاب د درمل په ځای درد او مصیبت وو. تاسو ولی د خپل جمهوري غوښتونکي ګوند جوړول ضروري وګڼل او اغېز به يې څومره وي؟

اول خو دا چې د افغانستان ستونزه تخنیکي نه ده، بلکې سیاسي ده او سیاسي ګوندونو ته اړتیا ده. سیستمونه او مذاهب په افرادو کې نه څېړل کېږي. مثلا که یو کس بدکاره وي، هېڅ څوک نه شي ویلای چې اسلام خراب دی. ځینې اصول او ارزښتونه دي چې د اسلام او موډرنې حکومتولې له مخې سیاسي ګوندونه ته اړتیا لیدل کېږي؛ ځکه ګوندونه یې کولای شي او په انفرادي ډول ناممکن دي. د بېلګې په توګه، د طالبانو تحریک پخپله یو حزب دی، اوس هغه څوک مطرح دي چې ګوند لري، بې ګونده خلک ګوښي او له صحنې د باندې دي. ځینې ښې اړخ ته لاړل او څه کیڼ ته، نتیجه دا شوه چې ملي ګوندونو رشد ونه کړ. زموږ خوځښت یو ملي حرکت دی، په جمهوري ارزښتونو ولاړ دی او دلته د نفي، حذف او انحصار لپاره هېڅ ځای نه شته.

پوښتنه: له افغانستان څخه د باندې، په لسګونو سیاسي، کلتوري او مذهبي بنسټونه جوړ شوي چې یو له دغو ډلو څخه د ملي مقاومت په نوم ډله ده او په وسله والې مبارزې ټینګار کوي. آیا ستاسو ترمنځ د همغږۍ او ارتباط کوم تارونه غزېدلي که څنګه؟

ځواب: د طالبانو په ګډون، د هېواد هېڅ سیاسي او مدني حرکت او جګړه ماره ډله د ټولو خلکو استازولي نه شي کولای، ځکه دوئ یو ته هم ملت خپله رایه نه ده ورکړې. البته، په پیل کې مو له یادې مقاومتي ډلې سره رابطه وه مګر اوس نه شته. موږ په جنګ عقیده نه لرو او تشدد د حل لاره نه بولو. د څنګ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ته کولو او میم زرما ټوله زما سیاست نه پخوا نتیجه ورکړی او نه به یې په راتلونکي کې ورکړي.
څرنګه چې د نظامي او جګړه مارو ډلو اجنډا او روایت ملي نه دی، نو موږ ورسره اړیکه هم نه لرو.
بله بنسټیزه خبره دا ده چې دوئ به دا جنګ چېرته کوي؟ بیا به ایران او پاکستان ته ځي او هلته به اډې جوړوي؟ د هغوئ ټوپک به پخپلو اوږو ږدي؟ دا خو د حل لاره نه شوه؛ له جنګ وروسته به یې تګلاره څه وي؟ بیا غواړي قدرت په زور ونیسي؟ ټول ګورو چې د زور له لارې، کله یوه ډله د واک په ګدۍ کښېني او کله بله. نه حالات سمېږي او نه د جنګ لمبې سړېږي. که سیاست مثبتې پایلې نه لري، نو د جنګ ناوړې پایلې هم زموږ د سترګو په وړاندې دي. طالبان او ټول غورځنګونه او بنسټونه دې پخپل تفکر او پالیسیو کې بدلون راولي او باید ومني چې افغانستان د ټولو ګډ وطن دی؛ هر وګړي برابر حق لري او رول یې باید خوندي وي.
پوښتنه: د تېر جمهوري نظام لوړ رتبه غړي اکثره په اختلاس او فسادونو تورن دي، آیا دوئ به د ولس په متن کې بیا ځای ومومي او په دوئ به څوک باور وکړي؟
زه د افرادو اړوند څه ویل نه غواړم چې څوک به څه رول ولوبوي؟ خو که خبره د سیستم، اصولو او حقوقو وي نو ښکاره ده چې زموږ ځیرکه او با دیانته ولس د ښه او بد انتخاب پخپله کولای شي.
وروستۍ پوښتنه: له نن څخه پنځوس کاله وروسته به تاریخ څه ولیکي چې شاه محمود میاخېل څوک دی؟
فکر کوم بهتره به وي د دې پوښتنې ځواب، تاریخ ته پرېږدم چې خپل بې پرې قضاوت وکړي.

---

یادونه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولای شي د ملکزي نوري لیکنې، مرکې او څېړنې د هغه په فیسبوک او یوټیوب چینل کې ولولي او وګوري.
ادرس یې دا دی: Wali Malakzay



د لیکوال نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ